لومړی ټولګی

پښتو منظم لیک لوست



مولف: سر محقق داکتر ګل جان (ورور) وردک

د چاپ حق یوازې د مولف دی

د جدی میاشت، کال ۱۳۷۳

بسم الله الرحمن الرحیم

د لیك او لوست كلی

که د کتاب په رسمونو کې د ښي لوري د رسمونو د الفاظو د لومړي آواز شکل او د پاسنیو رسمونو د الفاظو د وروستي آواز شکل زده کړئ او هم د هغو دوو توریو څخه جوړې شوې هجاوې او د هجاوو لیکلي شکلونه وپېژنئ ، په هر پښتو متن کې به د هجاوو کلی او ټول توري وپېژنئ .
که د توریو له حرکاتو (ـَ ، ـِ ، ـُ ، ـٔ) څخه هم کار واخلئ د پښتو لوستل به وکولای شئ .

بسم الله الرحمن الرحیم

PROPERTY OF
ACKU
4559

خدای (ج)

خدای خالق د ټول جهان دی　　خدای روزونکی د انسان دی

هر څه خدای دي پیدا کړي　　ښه او بد یې جلا کړي

دی واکدار دی د همه وو　　کل اختیار دی د همه وو

شریک نه لري یکتا دی

خدای د ټول جهان پاچا دی

د پای توری / د پیل توری	 ا	ه	ې	 و
ا	ا (آ)	اه	اې	او
ب	با	به	بې	بو

بابا ، بابو ، بابه ، بې آبه ، اوبه

بابا ! اوبه .

او بابا ، اوبه !

بابه ! اوبه .

او بابه ، اوبه !

 ی	ي	ې	ئ	د هر توري بېلا بېل شکلونه
ای	اي	اې	ائ	ا
بی	بي	بې	بئ	بـ ـبـ ـب ب

باآبه، بي بي، بې آبي

بابو ! بې آبي .

بې آبه بابو !

او بابو ، اوبه !

او بي بي ، اوبه !

دپای توری / د پیل توری	بابا	بابه	بې	بابو
	ا	ه	ې	و
ش	شا	شه	شې	شو
ر 	را	ره	رې	رو

باره ، بوره ، شابې بې ، راشه

شابې بې ، را شه !

بابا ، راشه !

راشه ! شابې بې .

بابه ، راشه !

بابی ی	بي بي ي	بې ې	ائ ئ	**د هر توري** **ببلا ببل** **شکلونه**
شی	شي	شې	شئ	شـ ـشـ ـش ش
ری	ري	رې	رئ	ر ـر ر

باشي ، راشئ ، بوري ، باري

بابا ، به راشي ۰

باشي ، به راشي ۰

بابه ، به راشي ۰

شابي بي ، به راشي ۰

د پای توری د پیل توری	را ا	شه ه	رې ې	شارو و
پ 	پا	په	پې	پو
د	دا	ده	دې	دو

پوره ، دادا ، داده

بابا ! دا بوره ده .

دا بوره پوره ده .

بوره د بابو ده .

شا بي بي به را شي .

شابی ی	باشي ي	بوره ې	راشۍ ۍ	د هر توري بېلا بېل شکلونه
پی	پي	پې	پۍ	پ ـپـ ـپ پـ
دی	دي	دې	دۍ	د ـد د

پاپي ، دارو ، شادي

دا دارو دي .

دا اوبه دي .

پې د شابي بي دي .

دا بي بي ده .

شابي بي ! دا شادي د

د پای توری / د پیل توری	دادا	بوره	بوري	پارو
	ا	ه	ي	و
ت 	تا	ته	تې	تو
ټ	ټا	ټه	ټې	ټو

تاته ، توبه ، توره ، تورې ، ټاپه ، ټاپې ، ټوته ، ټوټې

دا ټوټه د توري ده .

توری د بابو دادا دی .

دا ټوټه ټاپه ده .

د توري ټوټې ټاپه دي .

دوبی ی	پاپي ي	پېږ ې	راشۍ ۍ	د هر توري ببلا ببل شکلونه
تی	تي	تې	تۍ	تـ ـتـ ـت ت
ټی	ټي	ټې	ټۍ	ټـ ـټـ ـټ ټ

باټو ، بوټی ، تاري ، توری ، ټوپې

دا ټوټه تاري ده .

د توري ټوپې توره ده .

تاري ټوټه پوره ده .

توری به راشي .

توری به تاته راشي .

د پای توری / د پیل توری	دارا ا	ټاپه ه	ټوپۍ ي	باټو و
ث 	ثا	ثه	ثي	ثو
ج	جا	جه	جي	جو

باجه ، جاده ، جادو ، جارو ، جوپه

دا ثي ده .

دا جارو ده .

جارو د بي بي ده .

باجه به دي تا ته راشي .

ته به دادا ته را شي .

بوټی	تاري	ټوپۍ	رابه‌شئ	د هر توري ببلا ببل شکلونه
ی	ي	ۍ	ئ	
ثی	ثي	ثۍ	ثئ	ثـ ـثـ ـث ث
جی	جي	جۍ	جئ	جـ ـجـ ج ـج

بوجۍ

دا بوجۍ توره ده .

توره بوجۍ د شابي بي ده .

شابي بي به راشي .

شابي بي به اوبو ته راشي .

د پای توری / د پیل توری	ثا	ثه	ثې	ثو
	ا	ه	ې	و
چ 	چا	چه	چې	چو
ځ	ځا	ځه	ځې	ځو

پاچا، پوچه، ځه، راځه، راځئ

ځه چې د باجو باجه ته ځو .

د باجو باجه چې تا ته را شې .

ته به باباجي ته را شې .

باباجي به پاچا ته را شي

د هر توري بېلا بېل شکلونه	راشئ ئ	بوجۍ ۍ	رابه‌شي ي	توري ی
چـ چـ ـچ چ	چئ	چۍ	چي	چی
څـ ـڅـ ـڅ څ	څئ	څۍ	څي	څی

څاڅی ، څاڅي ، څاڅۍ ، راڅئ ، چېري

دا څاڅۍ ده .

دی څاڅی دی .

څاڅی چېرې دی .

څاڅی چې تاته راشي .

ته به شورا ته څې .

د پای توری / د پیل توری	پاچا ا	راځه ه	چېرې ې	راځو و
ځ 	ځا	ځه	ځې	ځو
ح	حا	حه	حې	حو

پاخېده ، پوځه ، پوځې ، ځو ، ځارو ، حوره ، حاره

دا پوځه ده .

دا پوځه د حورې ده .

حوره پوځې ته راځي .

د حورې په پوځه اوبه ځاځي .

پوځه به ټوټې ټوټې شي .

ځاځۍ ی	چاپي ي	بوچې ې	راځئ ئ	د هر توري بېلا بېل شکلونه
ځۍ	ځي	ځې	ځئ	ځـ ـځـ ـځ ځ
حۍ	حي	حې	حئ	حـ ـحـ ـح ح

بيده ، حاجي

حاجي پاڅېده .

حاجي بيده دى .

حوره به راشي .

حوره به تاته راشي .

ته حاجي ته راشه .

د پای توری / د پیل توری	حا	پوڅه	دحورې	څو
	ا	ه	ې	و
خ	خا	خه	خې	خو
ډ 	ډا	ډه	ډې	ډو

خاده، بې خوبه ، خورې ، ډاډه ، ډېره

حاجي به راشي .

خورې ! ته راشه .

ته بابا ته راشه .

بابا بې خوبه دی.

حاجي ډاډه دی .

ټاپی ی	څاڅي ي	حاجۍ ۍ	ځئ ئ	د هر توري بېلا بېل شکلونه
خی	خي	خۍ	خئ	ـخ ـخـ خ ـخ
ډی	ډي	ډۍ	ډئ	ډ ـډ ـډ

بوډۍ، ډوډۍ، توخی، توخي

دا ډوډۍ ده .

ډوډۍ ډېره ده .

ډوډۍ به ټوټه ټوټه شي .

توخی ډوډۍ ته راځي .

د توخي ډوډۍ ډېره ده .

د پای توری / د پیل توری	بوډا	خاده	خوږي	څارو
	ا	ه	ي	و
ز	زا	زه	زي	زو
ړ	ړا	ړه	ړي	ړو

اوړه ، بازو ، بوزه ، تازه ، جوړه ، دوړي ، زاړه

دا اوړه دي .

دا اوړه زاړه دي .

حاجي به راشي .

د حاجي اوړه زاړه دي .

د حاجي په اوړو دوړي دي .

توخی ی	راځي ي	ډوډې ې	راځئ ئ	**د هر توري** **بېلا بېل** **شکلونه**
زی	زي	زې	زئ	ز ـز ز
ړی	ړي	ړې	ړئ	ړ ـړ ړ

بازي ، اوړی ، تازي ، توړې، دوبی

دا تازي دی .

دا تازي د تازه دی .

تازي تازه ته راځي .

تازه پوره ډاډه دی .

تازه به ډاډېي ته راشي .

د پای توری / د پیل توری	زا ا	اوړه ه	دوړې ې	بازو و
ذ	ذا	ذه	ذې	ذو
ژ	ژا	ژه	ژې	ژو

روژه ، ځیره ، ژاړي

توبا روژه ده .

دیبا بوزه ده .

اوړه زاړه دي .

توبا ! دا ځیره ده .

اوږی ی	تازي ي	بوډۍ ۍ	راشئ ئ	د هر توري بېلا بېل شکلونه
ذی	ذي	ذۍ	ذئ	ذ ذ ذ
ژی	ژي	ژۍ	ژئ	ژ ژ ژ

رې ، زې ، ژې ، ړې ، ژی ، ژي ، ژۍ

دا ژی دی .

دا ژۍ ده .

دا ژي دي .

دا د بوجۍ ژۍ ده .

دا د بورې بوجۍ ده .

د پای توری / د پیل توری	ټوبا ا	روږه ه	روږي ي	ذو و
ړ 	ړا	ړه	ړي	ړو
س	سا	سه	سي	سو

سابه، ساره

دا اوړه د اوړی ده .

د اوړی اوړه جوړه ده .

د اوړی په اوړه اوره دي .

سابه به ساره شي .

دا سابه ساره دي .

ذی ی	ذي ي	ذې ې	ذئ ئ	**د هر توري بېلا بېل شکلونه**
ږی	ږي	ږې	ږئ	ږ ـږ ږ
سی	سي	سې	سئ	سـ ـسـ ـس س

تېره ، تيږه ، ږيره

د دادا ږيره توره ده .

دا توره تېره ده .

چاړه به په تيږه تېره شي .

د بيزو پوزه توره ده .

بيزو ډېره ژاړي .

د پای توری / د پیل توری	دیا	اوږه	اوږې	جارو
	ا	ه	ي	و
ښ	ښا	ښه	ښې	ښو
ص	صا	صه	صې	صا

خاصه ، بانښه ، شادي ، ښادي ، ښه

PROPERTY OF ACKU 4559

دا بانښه ده .

دا بانښه د ښاپېرۍ ده .

ښارو به ډوډۍ ته راشي .

ډېره ښه ډوډۍ ده .

خاصه ډوډۍ ده .

سوړی ی	ښاري ي	اوبږه ې	راځۍ ۍ	د هر توري بېلا بېل شکلونه
ښی	ښي	ښې	ښۍ	ښـ ـښـ ښ ـښ
صی	صي	صې	صۍ	صـ ـصـ ص ـص

ښاپېرۍ، ښاخې، ښی

ښاپېرۍ خوري ! راشه .

ښادي ته راشه .

ښارو ښادي ته راځي .

ته چې ښادي ته راشې .

اوږې به تا ته راشي .

د پای توری / د پیل توری	راجا	خامه	اوښې	ښاپېرو
	ا	ه	ې	و
ق 	قا	قه	قې	قو
ک 	کا	که	کې	کو

چاکو، قارې، کاکا، کاسه

دا کوزه ده .

دا کوزه د کاکا ده .

ښه کاسه د قارې ده .

دا چاړه تېره ده .

تېره چاړه د قارې ده .

دا ښارو ده .

ښی	ښي	ښې	راښئ	د هر توري بېلا بېل شکلونه
ی	ي	ې	ئ	
قی	قي	قې	قئ	قـ ـقـ ـق ق
کی	کي	کې	کئ	کـ ـکـ ـک ک

باقي ، قاچاقي ، کوزې

دا بوره د باقي ده .

د باقي بوره قاچاقي ده .

قاري د باقي کاکا دی .

دا د قاري کوزه ده .

د قاري په کوزې کې اوبه دي .

د پای توری / د پیل توری	کاکا ا	کوزه ه	کوزې ې	چاکو و
ض	ضا	ضه	ضې	ضو
 ط	طا	طه	طې	طو

ښارو د سارا ده .

دا تازي دی .

تازي د دوبي دی .

دا اوبه دي .

اوبه ډېرې دي .

روکی ی	قاري ي	کوږه ې	راشۍ ۍ	**د هر توري بېلا بېل شکلونه**
ضی	ضي	ضې	ضۍ	ضـ ـضـ ـض ض
طی	طي	طې	طۍ	طـ ـطـ ـط ط

طوطي ، قاضي

دا طوطي دی .

طوطي ښه دی .

ښه طوطي د قاضي دی .

د قاضي طوطي ښه دی .

قاضي به راشي .

د پای توری / د پیل توری	سارا	ساړه	تېرې	ضو
	ا	ه	ې	و
ظ	ظا	ظه	ظې	ظو
غ	غا	غه	غې	غو

راغه ، غاړه ، غوره ، غوری ، غوري

دا غاړه ده .

دا د طوطي غاړه ده .

دا غوره دي .

غوره د قاضي دي .

په غوري کې ډوډۍ ده .

کوچی ی	قاضي ي	کوچە ێ	گەراشیٔ ئ	د هر توری ببلا ببل شکلونه
ظی	ظي	ظێ	ظئ	ظ ظ ظ ظ
غی	غي	غێ	غئ	غ غ غ غ

باغي ، غازي ، غابنی

دوەیر د غازي دە .

دا کوتە دە .

کوتە د شاغاسي دە .

شاغاسي بە راشي .

شاغاسي پە غابني راحي .

د پای توری / د پیل توری	ټوخا ا	غوره ه	ظي ي	ظو و
ل 	لا	له	لي	لو
م	ما	مه	مي	مو

لاره ، لارې ، لالا ، لېوه ، ماته ، ماده ، ماشه ، ماله

ماما به مې راشي .

لالا به دې راشي .

که مې لالا راغی .

ته به لالا ته راځې .

که ته ماما ته راشې .

غوری ی	غوري ي	غالمې ې	راځۍ ۍ	د هر توري بېلا بېل شکلونه
لی	لي	لې	لۍ	لـ ـلـ ـل ل
می	مي	مې	مۍ	مـ ـمـ ـم م

لاسي ، لاسې

ماشي ډېري دي .

په راغه کي لېوه دی .

په لارې کي مېږ دي .

د ماما ماله ماته ده .

لاسي ډوډۍ ښه ده .

د پای توری / د پیل توری	ماما ا	ماله ه	للامې ې	تالو و
ښ	ښا	ښه	ښې	ښو
گ 	گا	گه	گی	گو

گاډی، گوره ، گولۍ

گاډی د لالا ده .

لارۍ د ماما ده .

لالا به په گاډی کې راشي .

ماما به په لارۍ کې راشي .

لالا به مې تاته راشي .

د هر توري بېلا بېل شکلونه	مه‌ځۍ ۍ	مې ې	طوطي ي	مېږی ی
ڼ ـڼ ـڼـ ڼـ	ڼۍ	ڼې	ڼي	ڼی
گ ـگ ـگـ گـ	گۍ	گې	گي	گی

باڼه ، گاڼه ، گاڼې

دا گاڼې ده .

دا د تېلو گاڼې ده .

د تېلو گاڼې جوړه ده .

دا گاڼه د توبا ده .

د دیبا گاڼه ښه ده .

د پای توری / د پیل توری	روڼا	کاڼه	لوښې	چاقو
	ا	ه	ې	و
ن 	نا	نه	نې	نو
و	وا	وه	وې	وو

خونه ،خونې ،کابینه ، ناڅاپي ، واده ، واړه

والي راغی .

کابینې ته راغی .

د واده ډولونه واړه دي .

واړه له ډولونو بېربېږي .

په خونو کې سازونه دي .

مونثی	قاضي	گالمنه	گورئ	د هر توری بېلا بېل شکلونه
ی	ي	ې	ئ	
نی	ني	نې	نئ	نـ ـنـ ـن ن
وی	وي	وې	وئ	و ـو و

ناري ، نوري ، نورې ، ویده

نوراني والي دی .

والي ویده دی .

ناري ته راځه !

نورانۍ ویښه ده .

ډوډۍ په دالانونو کې ده .

د پای توری / د پیل توری	واوا	ډولونه	کابيتي	دارو
	ا	ه	ي	و
ع	عا	عه	عي	عو
ف 	فا	فه	في	فو

عامه ، فانه ، فاني

دا فانه ده .

په ماله کي فاني دي .

دا غابونه د فاروقي دي .

د فاروقي په غابونو کي آلو دي .

د غابونو آلو پاخه دي .

ناري ی	والي ي	څونه ې	مهځئ ځئ	د هر توري بېلا بېل شکلونه
عی	عي	عې	عئ	ﻋ ﻌ ع ع
فی	في	فې	فئ	ﻓ ﻔ ﻒ ف

عالي ، عيبي ، عيبونه ، فيته ، فيتې

دا فيتې ډېرې دي

اوه فيتې عالي دي .

نه فيتې عيبي دي.

د عالي فيتو آوازونه ښه دي .

د عيبي فيتو آوازونه ښه نه دي .

د پای توری / د پیل توری	نالا ا	عامه ه	فیتې ې	آلو و
ه	ها	هه	هې	هو
ی (یـ)	یا	یه	یې	یو

رایه ، ساهو ، لویه ، هاکې ، هو ، هوسۍ ، یابو

هاغه هوسۍ ده .

هوسۍ په اوبو کې لاهو ده .

د هوسۍ غاښونه واړه دي .

هادي په شورا کې دی .

هاغه هادي دی .

دوبی	عالي	توپه	مهگوړئ	د هر توري ببلا ببل شکلونه
ی	ي	ې	ئ	
هی	هي	هې	هئ	هـ هـ ـه ه
يی	يي	يې	يئ	بـ بـ ی ی

لويه ، هيلۍ ، ياغي

يارو راغی .

يارو والي ته راغی .

رويا او هيلۍ لونې دي .

ليلا له هوسۍ نه لويه ده .

ليلا په کوټه کې ده ؟

لار ښوونه : د لاندیني جدول د هرې کلمې لومړی توری (ـ) لري .

اره	بری	پنې	تبی	تمو	ثنا
انار	بگی	پتو	تله	تمی	ثنایا

تړور

نازو مې خور ده .

حوره مې تړور ده .

مور مې د حورې خور ده .

حوره د نازو تړور ده .

نازو د هوسۍ تړورزی ده .

هوسۍ مې د مور خورځه ده .

لیلا مې د پلار خور ده .

بار	پاس	تاك	تمیته	تقیل	جوړ
باد	پیل	تبل	تول	ثواب	جیم

لارښوونه : د پورتني جدول د هرې کلمې وروستی توری (ـ) لري .

لار ښوونه : د لاندیني جدول د هرې کلمې لومړی توری (ے) لري .

جره	چپه	ځکه	څته	حوا	خلی
جواري	چکه	ځلا	څلی	حلقه	خره

غالۍ

دا غالۍ د لیلا ده .

د لیلا غالۍ ښه ده .

غالۍ یې پاکه ده .

دوړې نه لري . ناپاکه نه ده .

د ملالۍ غالۍ دوړنه ده .

دوړې ناروغي ډېره وي .

چاپ	ځبل	څوك	حال	خال	دال
چین	ځور	څار	حوت	خور	دبگ

لارښوونه : د پورتني جدول د هرې کلمې وروستی توری ساکن دی .

لار ښوونه : د لاندیني جدول د هرې کلمې لومړی توری (ځ) لري .

دوا	ډله	ذره	ردي	ځچا	زره
دمه	ډبا	ذخيره	رسۍ	ځچی	زرې

کاسه

ځلته یوه کاسه وه .

کاسه د ښاپېرۍ وه .

د ښاپېرۍ په کاسه کې بوره وه .

بوره اووه کیلو وه . د شاپېرۍ خور شیما وه .

شیما اوړه ، غوړي ، او اوبه راوړل .

شیما او ښاپېرۍ اول حلوا پخه کړه .

پیا یې حلوا خیرات کړه .

ډول	ذال	رنگ	ځ	زوم	گور
ډال	ذات	روغ	ځ	زیږ	ور

لارښوونه : د پورتني جدول د هرې کلمې وروستی توری (ے) لري .

لار ښوونه : د لاندیني جدول د هرې کلمې لومړی توری (ړ) لري .

ړلۍ	ژبه	سبا	شړۍ	صواتونه	ضروري
ړغونه	ژمی	سپاره	شمالي	صرافي	ضمیمه

خوړ

غاښونه مې خوږېږي .

لاسونه مې نه خوږېږي .

غوږونه مې خوږېږي .

پښې مې اوس ښې دي .

پښې مې اوس نه خوږېږي .

د خیالۍ سترګې ښې شوې ، خو زړه یې لا تر اوسه خوږېږي .

ژوب	سین	شین	ښار	صاف	ضرور
ژبړ	سیل	شور	ښور	صابون	ضمیر

لارښوونه : د پورتني جدول د هرې کلمې وروستی توری ساکن دی .

لار ښوونه : د لاندیني جدول د هرې کلمې لومړی توری (ـط) لري .

طياره	ظريفي	عمه	غله	فراري	قباله
طيارې	ظهوري	عريضه	غدۍ	قبيله	قديمه

غوا

دا غوا لنګه ده .

خوسکی یې روغ دی .

تندۍ غوا په خوسکي لوشي .

غوا په خپل خوسکي پۍ پرېږدي .

که غوا بوره شي پۍ ښې نه پرېږدي .

د غوا مېړمن خپله تندۍ غوا او تندی خوسکی ښه ساتي . که یې ښه ونه ساتي ، ښې پۍ نه کوي او خوسکی ښه وده نه کوي .

طاق	ظريف	عيد	غين	فال	قاب
طول	ظهور	عين	غاب	فيل	قبر

لارښوونه : د پورتني جدول د هرې کلمې وروستی توری (ـط) لري .

لار ښوونه : د لاندیني جدول د هرې کلمې لومړی توری (ـُ) لري .

کته	ګته	لری	منه	نباتي	رنا
کراچۍ	ګډۍ	لږي	منې	نساجي	ګنه

خواړه

سابه ښه خواړه دي . په سابو کې ويټامينونه وي . ويټامينونه ماشومانو ته فايده لري . خواړه چې ويټامين ونه لري چا ته لازمه فايده نه لري .

ناروغان د غرمې او ماښامه مېوه خوري . د سهاره شيدې او هګۍ خوري . پاکې شيدې ، سابه او مېوه ښه خواړه دي .

کېڼ	ګاټ	لار	مېخ	ثال	ګڼل
کوڼ	ګيج	لور	ميم	نون	کوڼ

لارښوونه : د پورتني جدول د هرې کلمې وروستی توری ساکن دی .

لار ښوونه : د لاندیني جدول د (ہ) کلمو لومړي توري (ـُ) لري .

وری	هوا	یما	اُمت	اِسلام	اَمین
وري	هلہ وکی	یهود	بُلبل	بِستر	بَلوغ

د کور کارونه

زما ورور او خور به را شي . خور به مې له مور سره د کور کارونه کوي . زه او ورور مې د پلار سره د پټي کارونه کوو . که پر موږ کارونه ډېر شول مشر ورور به مې مرسته را سره کوي .

مور به مې ډوډۍ پخوي . څوك چې په یوه کور کې ژوند کوي باید یو له بل سره مرسته وکړي .

ویښ	هار	یار	پُسته	پِسته	پَل
واك	هېر	یور	تُرکي	تِکرار	تَش

لار ښوونه : د ښی لوري د شپږو کلمو وروستي توري ساکن دي .

تکر	تکسي	توکر	ثمر	ثقل	ثقه
جد	جدي	جمله	چتک	چك	چرت

د غنمو کرل

زما پلار هرکال غنم کرل . پرووسږکال چې اوبه لږې وې غنم يې ونه کرل . سږکال چې اوبه ډېرې وې بيايې غنم وکرل . د غنمو د پاره يې لومړی مځکه اوبه کړه . کله چې مځکه وتره شوه بيايې غنم پکې وشيندل . د غنمو تر شيندلو وروسته يې يوې او ماله کړل . بيايې پرېښوده چې غنم راشنه شي .

ځنګ	ځبره	ځنی	ځلمی	ځيلۍ	ځولۍ
حسن	حرص	حجره	ختکر	خجل	خرما

ذَبح	ذِهن	ذُ	رَخت	رِزق	رَخصت
رَنگ	ړ	ړُ	زَحمت	زِندان	زَهل

مېوه

پاکه مېوه ښه وي .

ناپاکه مېوه ښه نه وي .

پاکه مېوه هرڅوك خوري .

ناپاکه مېوه هېڅوك نه خوري .

تازه مېوه ناروغانو ته گټه رسوي .

تازه مېوه ماشومانو ته هم ښه وي .

امیدواره یو چه تازه مېوه ډېره ښه .

ژَرَن	ژِړو	ژَوبل	ږَدن	ږِیره	ږَمنځ
سَرپوس	سِنج	سَنت	شَبنم	شِدت	شَکر

ښځه	ښښګڼه	ښوره	صبر	صفت	صلح
ضرر	ضد	ضعف	طبع	طب	طغیان

ساري ناروغۍ

په دوبي ساري ناروغۍ ډېرې وي . غوماشې چې ناروغان وچیچي وینه یې زبېښي . د ناروغ په وینه کې مکروبونه وي . غوماشې چې بل روغ سړی وچیچي د ناروغ د وینې مکروب په کې پرېږدي . مکروبونه چې په وینه کې ګډ شي پاکه وینه ناپاکه شي . جوړه وینه د اوړو په شان خمیره کېږي . ناروغي خپرېږي .

ظرف		ظلم	عدد	عشق	عرف
غرب	غذا	غلام	فتح	فلتر	فرصت

قُبر	قِرائت	قُمري	کَفن	کِتاب	کُفر
لَمن	لِسانْ	لُعاب	مَتن	مِتر	مَنظم

هوا

ملالۍ او زرغونه د خپل ماما کره تللي . په آسمان کې نرۍ وريځ وه . ملالۍ وويل ، « پرون آسمان شين و . که پرون تللي وای نو ډېر ښه کار به شوی وای . دوی په خبرو خبرو د ماما کور ته ورسېدلي .

زرغونې وويل ، « ملالۍ تا وويل چې نن هوا ډېره سړه ده . خو نن ډېره ښه هوا ده . ځکه چې هوا نه ډېره سړه وه نه ډېره توده . »

نَذر	نِسبت	نَطق	وَحدت	وِجدان	وَزگار
هَدف	هِجران	هَنر	يَنه	يَکۍ	...

د کال فصلونه

تېر کال ښه کال و . څکه چې په پسرلي کې هوا ښه وه . باران هم په خپل وخت اورېده . دوبی هم ښه تېر شو . د بزگرانو کښتونه پر خپل وخت ورسېدل . د مني نوي کښتونه یې وکرل . په ژمي کې واوره واورېده . ژمی هم د پسرلي ، دوبي او مني په شان ښه تېر شو . خلك خوښ وو څکه چې د تېر کال ټول فصلونه ښه وو . ووایه څه شی دي ؟

یوه ونه ده دوولس یې ښاخونه دي ، په هر ښاخ کې یې دېرش دېرش پاڼې دي .

د پښتو ژبې بشپړه الفبې

توری	نوم	توری	نوم	توری	نوم	توری	نوم
آ	الف مد	خ	خې	ص	صوات	ن	نون
ا	الف	د	دال	ض	ضوات	ڼ	ڼون
ب	بې	ډ	ډال	ط	طې	و	واو
پ	پې	ذ	ذال	ظ	ظې	هـ	هې
ت	تې	ر	رې	ع	عین	ی	یې
ټ	ټې	ړ	ړې	غ	غین	ی	زمری
ث	ثې	ز	زې	ف	فې	ي	دوبي
ج	جیم	ژ	ژې	ق	قاف	ې	ارې
چ	چې	ږ	ږې	ک	کاف	ۍ	هکۍ
ځ	ځی	س	سین	ګ	ګاف	ئ	وخورئ
څ	څې	ش	شین	ل	لام		
ح	حې	ښ	ښین	م	میم		



مور

موري ، چرگي هگۍ اچولي ده .

زموږ چرگي هگۍ اچولي ده .

واخله موري ، هگۍ واخله .



ملالۍ ، راشه . سدو راشه .

راشئ ، دلته راشئ .

زموږ چرګې هګۍ اچولې دي .

زموږ هیلۍ هم هګۍ اچولې دي .



سدو ، ولاړ شه هگی راوړه .

ملالۍ، ولاړه شه هگی راوړه .

زمرکه،ته هم ولاړ شه هگی راوړه .

بیا ولاړ شئ هگی راوړئ .



زمرکه وگوره .

سدو ، هگی ما ته را کړه .

ملالۍ ، ژر کوه چرګه راوړه .

زمرکه، وګوره ملالۍ چرګه کښېنوي.

وګوره چرګه چېرې کښېنوي .

وګوره چرګه پر هګیو کښېنوي .

زمرکه ، هله ژر راشه .

چرګوړي وګوره .

راشئ چرګوړي وګورئ .



انا

انا ، ماته وګوره .

زما غاښ وګوره .

زما غاښ ښوري .

زما غاښ ډېر ښوري .



ملالی ، مه کوه ، مه کوه .

په غاښ دې لاس مه وهه .

ماته و گوره .

د لاسو اوبه راوړه .

ملالی ، راشه .

ملالی ، رانژدې شه .

ماته راشه .

راشه چې غابس دې وګورم .



ګوم غابښ دې ښوري ؟

انا ، دا غابښ مې ښوري .

ملالۍ ، غابښ دې ووت .

ملالۍ واخله ، غابښ دې واخله .

بابا

بابا سلام .

بابا ، موز راغلو .

تاته راغلو .

موز ژر ژر راغلو .

تاته مو ډوډۍ راوړې ده .

دا ستا ډوډۍ ده .

بابا ، ډوډۍ دې وخوره .

راشئ ډوډۍ وخورو .

بابا ، موږ ډوډۍ خوړلي ده .

ته دي ډوډۍ وخوره .



ملالی ، وگوره . بابا وگوره.

بابا ختکی راوړ .

زما ختکی ډېر خوږ دی .

راشئ ختمکی وخورو .

بابا ، موز به ختمکی وخورو .

زموز خراء چرگه به څه وخوري ؟



موز به ختبکی وخورو .

چرگه به زړي وخوزي .

خر به پوستکي وخوري .



درمند

سدو وویل ، « بازګله ، راځه چې ولاړ شو .
راځه چې درمند ته ولاړ شو . موږ
درمند لرو . موږدغنمو درمند لرو . »



باز گل وويل ، «ډېر ښه سدو ، درځه
چې ولاړ شو .»
سدو وويل ، «زما پلار ښېر کوي .
زما پلار غنم ميده کوي . زما پلار په
ښېر غنم ميده کوي . راځه چې ولاړشو.
راځه چې پر ښېر سپاره شو .»

سدو وویل ، « پلاره ، زه راغلم .
باز گل هم‌را سره راغی. ډوډۍ مو در ته
راوړه . ته ډوډۍ وخوره . موږ به څپر
وکړو . »

باز گل وویل ، « هو ، کاکا ، ته به
ډوډۍ وخورې . موږ به څپر وکړو . غنم
به میده شي . ساعت به موهم تېر شي . »

دسدو پلار وویل ، «ډېر ښه ، زه به
ډوډۍ وخورم . تاسې به خپر وکړئ .
باز ګل دې پر خپر سپور شي . خو ژر ژر
خپر کوئ چې غنم میده شي . »

سدو وویل ، « باز ګله، راځه پر ښپر سپور شه . »

باز ګل وویل ، « ډېر ښه سدو ، زه به پر ښپر سپور شم . بیا به ته پر ښپر سپور شې . غنم به میده شي . ساعت به موهم تېر شي . »

دزلمي تور وری

زلمي وویل ، « نازو ، مه کوه . موري راشه . نازوته وګوره . نازو زما وری اخلي . نازو زما تورورى اخلي . »

مور وویل ، « نازو ، چرګوړي ستادي . وری دزلمي دی . دزلمي وری مه اخله . دزلمي تور وری مه اخله . »

زلمي وويل ، «پلاره ، دا سپی وگوره.
دا سپی زما وري ته غاپي . دا سپی زما
تورووري ته غاپي . »
پلار وويل ، «زلميه ، وری دي راوله .
وری دې زما خواته راوله . »

زلمي وويل ، « وريه ، ماته راشه . زما توره وريه راشه . راځه چې ځو . اوښان بار شول . وزې روانې دي . ټول روان دي . راځه چې ځو . راځه چې ژر ژر ځو . »



زلمي وويل ، « نازو ، ودرېږه . زما وري ته ودرېږه . زما وري ستړی شو . »

نازو وويل ، « پلاره ، ودرېږه . د زلمي وری ستړی شوی دی . د زلمي وری ډېر ستړی شوی دی . زلمی هم ستړی شوی دی . زلمی او وری دواړه پر اوښ سپاره کړه . »



پلار اوښ ته ورغی او ویې ویل ، « ایخ ، ایخ . »

اوښ بړبړ وکړ . وري امبا ، امبا وکړه.

پلار زلمی او دهغه وری پر اوښ سپاره کړل . اوښ روان شو . ټول روان شول .

دکونډې وزه

پیشو خپل پیشنګورې ته وویل ،

« پیشنګورې ، پیشنګورې ، شیدې دي

شیدې دي . دا شیدې دکونډې دي .

کونډه یوه وزه لري . دکونډې وزه شیدې

کوي . »

کونډې وویل ، «پیشنګوري
پیشنګورې، مه کوه! مه کوه! شیدې زمادي .
زه یوه وزه لرم . وزه ما ته شیدې
راکوي .»

پیشو وویل ، « کونډې ، پرېږده ،
پرېږده . پیشنګوری زما دی . »
کونډې وویل ، « پیشو شیدې زما وې .
ولاړه شه ما ته شیدې راوړه . دوزې
شیدې راوړه . »



پیشو وزې ته ورغله او ویې ویل ،
« وزې وزې، شیدې را کړه . زه شیدې
وړم کوندې ته . کونډه ما ته پیشنګوری
را کوي . »



وزې وویل ، «پیشو پیشو، ولاړه شه
ما ته پانۍ راوړه . زه به تا ته شیدې
درکړم . شیدې ور وړه کونډې ته . کونډه
به تا ته پیشنګوری در کړي . »



پیشو ولاړه ونې ته او ویې ویل ، «ونې ونې ، پاڼې را کړه . پاڼې ورم وزې ته ، وزه ما ته شیدې را کوي . شیدې ورم کوندې ته . کونډه ما ته پیشنګوری را کوي .»



و نې وويل ، «پيشو ،پيشوولاړه شه .
له چينې نه ما ته اوبه راوړه . زه به تاته
پانې درکړم . پانې وروړه وزې تـه،
وزه بـه تـا ته شيدې درکـړي . شيدې
وروړه کوندۍ ته . کونـډه به تا تـه
پيشنګورۍ درکړي.»



پیشو چینې ته ولاړه او ویې ویل ،
«چینې چینې ، او به را کړه. او بـه وړم
ونې ته . ونه به ما ته پاڼې راکړي .
پاڼې وړم وزې ته . وزه به ما ته شیدې
راکړي . شیدې به ورکړم کونډې تـه .
کونډه به ما ته پیشنګوری راکړي .»



چینې وویل ، «زه به تا ته اوبه درکړم .
اوبه ورورهٔ ونې ته . ونه به تا ته پاڼې
درکړي . پاڼې ورورهٔ وزې ته . وزه به
تا ته شیدې درکړي. شیدې ورورهٔ کونډۍ
ته . کونډه به تا ته پیشنګوری درکړي .»

چیني پیشو ته اوبه ورکړي . پیشو اوبه ورکړي وني ته . وني پیشو ته پاڼې ورکړي . پیشو پاڼې ورکړي وزې ته . وزې پیشو تـه شیدې ورکړې . پیشو شیدې ورکړې کوندې ته . کوندې پیشوته پیشنګوری ورکړ .

مور

اې زما ګرانې مورې — اې مهربانې مورې

ستا له خیري شمه ځار — دا ستا له خولې شمه ځار

زما د خوب له پاره — ته ټوله شپه بیداره

ته مې ځانګړې ناسته — للو للو ته ناسته

زه به دې حق کړم پر ځای — ژوندی به دې غواړم له خدای



روغ سړی

زه روغ یم، زموږ کورنۍ روغه ده. زما کارونه هم روغ او سم دي. روغتیا د هر چا خوښه ده. روغ غوړونه بنه او ریدل کوي. روغې سترګې بنه لیدل کوي. روغ سړی بنه فکر او بنه زده کړه کوي.

کیسه

نه يې پښې شته نه لاسونه، خو هر وخت وهي ټوپونه. دا څه شی دی؟





ناولي سابه

کاهووې ګندنې ته — د سبو دې ټوټې ته
ماشوم موږ ته هوسېږي — په خوراک مو نه پوهېږي
نامینځلي موږه خورینه — دسترخوان لره مو وړینه
چې په ګېډه کې یې شور شي — وارخطایي پلار او مور شي
لره مالګه په اوبو کې — چې شي حل په ښو شېبو کې
یا پیتاس باندې پاکېږو — له ګېلو څخه خلاصېږو

پاک کاهو ډېر ګټور دی
چې یې پاک خوري بختور دی



کتاب

نوم زما کتاب دی
ښکلی مې هرباب دی
زه دې ښه آشنا یمه
تا ته کیسې وایمه
مشق دې د لیکلو یم
هم دې د لوستلو یم
پاک مې له گردونو کړه
پام مې په رسمونو کړه
ښکلی مې هرباب دی
نوم زما کتاب دی

PROPERTY OF ACKU 4559

FIRST GRADE

Pashto Systematic Reading and Writing

by

Prof. Dr. Gul Jan Wror Wardak

Tel: 44392 ACBAR Peshawar.

January 1995 Price Rs: 25:00